اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ؕ

# دكتاب لوستلو دُعا

ديني كتاب يا اسلامی سبق لوستلو نه مخكښې دا لا ندې دعا اولولئ
اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ كوم څه چه لولئ نو هغه به مو ياد پاتې كيږي:

## اَللّٰهُمَّ افْتَحْ عَلَيْنَا حِكْمَتَكَ وَانْشُرْ عَلَيْنَا رَحْمَتَكَ يَا ذَاالْجَلَالِ وَالْاِكْرَام

ترجمه: اے الله عَزَّوَجَلَّ په مونږه دَ علم او دَحكمت دروازې پرانيزې او په مونږه خپل رحمت رانازل كړې! اے عظمت او بزرګۍ والا!

(مستطرف ج 1 ص40 دار الفكر بيروت)

(اول او آخر كښې يو يو ځل دُرود شريف اولولئ)



غوښتونكي
د غمِ مدينه
بقيع و بخښنه
۱ جمادی الاول ۱۴۳۶ھ


د رسالې نوم: زخمی مار

اول ځل: جمادی الاول ۱۴۳۶ھ، فروری2015ء تعداد:

ناشِر: مكتبةُ المدينه، عالمی مدنی مركز فيضانِ مدينه، بابُ المدينه كراچی.



مدني عرض: بل چا ته د دې رسالې د چهاپ كولو اجازت نشته.


## كتاب اخستونكي توجّه اوكړئ

كه دَ كتاب په طباعت كښې څه ښكاره خامي وي يا پاڼرې كمې وي يا په بائنډِنګ كښې مخكښې وروسته لګيدلی وي نو مَكْتَبَةُ الْمَدِيْنَه ته رجوع اوكړئ.


www.dawateislami.net

# زخمی مار

از: شَیخِ طَرِیقَت اَمِیرِ اَھلِسُنَّت، بانئِ دَعوَتِ اِسلَامِي

**حَضرَت عَلَّامَه، مَولَانَا، اَبُو بِلَال مُحَمَّد اِلیَاس عَطَّار قَادِرِي، رَضَوِي**

دَامَت بَرَكَاتُهُمُ العَالِيَه

**دَ ترجمې پيشکش:**

مجلس تراجم (دعوتِ اسلامي) د دې رسالې د اُردو نه په آسانه پښتو ژبه کښې د وس مناسب د ترجمه کولو کوشش کړې دې. که چرې په دې ترجمه کښې څه غلطي يا کمې زياتې اومومئ نو ستاسو په خدمت کښې عرض دې چه مجلس تراجم ته خبر اوکړئ او د ثواب حقدار جوړ شئ.

**مجلس تراجم دعوتِ اسلامي**


عالمی مدنی مرکز فیضانِ مدینه محله سوداگران

پرانی سبزی منڈی، باب المدینه کراچی، پاکستان

**UAN:** ☎ +92-21-111-25-26-92 – Ext. 1262

**Email:** translation@dawateislami.net


www.dawateislami.net

اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَ الصَّلٰوۃُ وَ السَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰہِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ؕ

# زخمي مار

شیطن که هرڅوناراستی دروړلی خو تاسودارساله پوره اولولئ او د دې برکتونه حاصل کړئ

## د درود شريف فضيلت

د دوارِ جهانونو د سلطان، سرورِ ذِيشان، محبوبِ رحمان صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان دي: په ماباندې درودِ پاک لوستل د پل صراط د پاره نور دي څوک چه د جُمعې په ورځ په ما اتياځله درود اولولي د هغه د اتيا کالو ګناهونه به معاف شي. (الفردوس بماثورالخطاب ج 2 ص 408 حديث 3814)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

حضرت سيِّدُنا ابو سعيد خدري رَضِيَ اللہُ تَعَالٰی عَنْهُ فرمائي: د يوځلمي صحابي رَضِيَ اللہُ تَعَالٰی عَنْهُ تازه تازه واده شوې وو. يوځل چه هغه خپل کورته تشريف راوړو نو اوئي ليدل چه دهغوئ ناوې د کور په دروازه کښې ولاړه وه. د ډيرې غصې نه ئې نيزه نيغه کړه او د ناوې طرف ته ئې ورمنډه کړه. هغه د يَرې نه په شا شوه او(په ژړا) ئې اووئيل:زما د سرتاجه! ما مه وهئ، زه بې قصوره يم، تاسو کور ته خو ننوځئ او اوګورئ چه زه څه شي باهرته را ويستلې يم. چه هغه صحابي رَضِيَ اللہُ تَعَالٰی عَنْهُ

www.dawateislami.net

فرمانِ مُصطفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: کوم کس چه په ما درود پاک لوستل هير کړل هغه دَ جنّت لاره هيره کړه. (طبرانی)

دننه تشريف يوړو، نوڅه ګوري چه يو خطرناک مار چجه وهلي په پوزي [يعني په بِستره] ناست دې. سمدست ئې په مارګوزار اوکړو اونيزه ئې پکښ اوټومبله، مار راتاؤ شو او هغه [صحابي] ئې اوچيچلو. زخمي مار په تاويدو تاويدو مړشو او هغه غيرت مند صحابی رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ هم د مار د زهرو د اثر نه شهيد شو. (مسلم ص1228 حديث 2236 مُلَخَّصًا)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

**غيرت مندو اسلامی ورونړو!** تاسو اوليدل؟ زمونږه صحابه کرام عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان خومره غيرت مند وو. هغوئ ته دا هم منظوره نه وه چه د هغوئ د کور زنانه دِ د کور په دروازه يا کهړکئ کښ ولاړې وي. خپله ښځه په ډَوَل سِنګهار سره د ځان سره شادي هالونو ته بوتلو والا، په بې پردګئ سره د ځان سره په سکوټرو ګرځولو والا، په مارکيټونو او بازارونو کښ په بې پردګئ سره د سوداګانو کولو نه نه منع کونکو دپاره په دې کښ ډير عبرت دې.

## زنانه چه خوشبو اولګوی نو باهر دِ نه اوځي

مصطفٰی جانِ رحمت صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائي: بې شکه چه کومه زنانه خوشبو اولګوی او د مجلس [يعني د ډلې] په خوا تيره شي نو هغه داسې داسې يعنی زناکاره ده. (ترمِذی ج 4 ص361حديث 2795)

مُفَسِّرشهير، حَکيمُ الاُمَّت حضرت مفتی احمديارخان نعيمی عَلَيْهِ رَحْمَةُ اللّٰهِ الْقَوِی د دې حديث پاک په شرح کښ فرمائي: ولې چه هغه د

www.dawateislami.net

فرمانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: څوک چه په ما دَجُمعې په ورځ درود شريف لولي زه به دَ قيامت په ورځ دَ هغه شفاعت کووم. (کنز العمال)

دې خوشبو په ذريعه د خلقو توجه ځان ته راګرځوي او څکه چه اسلام زِنا حرامه کړې ده نو په دې وجه د زِنا د اسبابو نه (هم) منع کول کوي.
(مرآۃالمناجيح ج 2 ص 172)

## د بې پردګۍ سخته سزا

حضرت سيِّدُنا امام احمد بن حَجَر مَکِّي شافِعِي عَلَيْهِ رَحْمَةُ اللهِ الْقَوِی ليکي: د معراج په شپه سرورِ کائِنات، شاهِ موجودات صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم چه د ځينې ښځو د عذاب دردرنکې منظرې اوليدلې په هغې کښې يو دا هم وو چه يوه ښځه د ويښتو نه زوړنده وه او د هغې مازغه خوټکيدل. د سرکار صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خدمت کښې عرض اوکړې شوچه دې ښځې به خپل ويښته د غيرو نارينوو نه نه پټول. (الزواجرعن اقترافِ الکبائر ج 2 ص 98,97 ملخصًا)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## خوفناک ځناوران

غالِباً د شعبان المُعَظَّم سن 1414ھ آخرئ جمعه وه. د شپې په کورنګئ (باب المدينه کراچئ) کښې کيدونکې په يوه عظيم الشان د سنَّتو نه ډکه اجتماع کښې د يو څلمي سره دسګِ مدينه عُفِيَ عَنْهُ (راقم الحروف) ملاقات اوشو. په هغه باندې ويره خوره وه. هغه حلفيه [يعني په قَسم سره] اووئيل چه زما د يو عزيز پيغله لور ناڅاپه مړه شوه. چه کله مونږه هغه خښه کړه او واپس ترې رارروان شو نو د مرحومې پلارته

فرمانِ مُصطَفٰےصَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چه په ما لس ځله سحر او لس ځله ماښام درودِ پاک اولوستل دَ قيامت په ورځ به هغه ته زما شفاعت مِلاويږي۔ (مجمع الزوائد)

ورياد شو چه د هغه يو هينډبيګ [د کاغذاتوبيګ] چه په هغې کښې ضروري کاغذات وو په غلطئ سره د مړي سره په قبر کښې خښ شوي دي. د مجبورئ په وجه مو قبر بيا اوکنستو، چه څنګه هم د قبر نه ګټه لرې کړه د يَرې نه زمونږه چغې اووتې ځکه چه کومه پيغله جينئ مونږه اوس اوس په صفا کفن کښې تاؤ کړې اوده کړې وه هغې کفن شلولې وو او ناوسته وه او هغه هم د کمان په شان کږه! آه! د هغې پنډئ د هغې په خپلو ويښتو تړلې شوي وې او څه ډير شې واړه واړه عجيبه خوفناک خزنده [ځناوران] د هغې په بدن پورې نښتي وو. دا خوفناک منظر چه مونږ اوليدو نو د ډيرې يرې نه زمونږه وجودونه په رپيدو شول، د کاغذاتو بيګ هم په ځائ پريښودو، په منډه منډه کښې هم خاوره ورواړولوله او په تيښته تړې لاړو. چه کورته راغلونو ما د عزيزانو نه د هغه جينئ د ګناه په باره کښې تپوس اوکړو نو وئيل ئې چه په هغې کښې څه داسې ګناه خو نه وه چه په دې زمانه کښې ګنې عيب ګنړلې شي، البته دې به هم د عامو جينکو په شان فيشن کولو او پرده به ئې نه کوله. اوس د مرګ نه يو څو ورځې مخکښې په خپلوانو کښې واده وو نو دې د فيشن ويښته جوړکړې وو او د عامو ښځو په شان د ډَوَل سِنګهار سره بې پرده په ښادئ کښې شريکه شوي وه.

اے مری بہنو! سدا پردہ کرو　　تم گلی کوچوں میں مت پھرتی رہو
ورنہ سن لو قبر میں جب جاؤ گی　　سانپ بچھو دیکھ کر چلّاؤ گی

فرمانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: د چا په خوا کښې چه زما ذکر اوشو او هغه په ما درودِ پاک اونه لوستو هغه جفا اوکړه۔ (عبدالرزاق)

اے زما خويندو هميشه پرده کوئ، په لارو کوڅو کښې هر وخت مه ګرځئ، ګني واورئ چه کله قبر ته کوزي کړې شئ او هلته ماران لړمان او وينئ نو بيابه ډيرې چغې او وهئ.

# کمزورې بهانې

**آيا د دغې بدنصيبه فيشن پرسته جينئ** د غم د دې داستان لوستلو سره به هغه اسلامي خويندې عبرت حاصل نه کړي کومې چه د شيطان په راپارَولو داسې حيلې بهانې جوړوي چه زما خو مجبورى ده، زمونږ په کور کښې هيڅ څوک پرده نه کوي، د خاندان رواج ته هم کتل پکار دي، زمونږ ټول خاندان تعليم يافته دې، زمونږ خاندان کښې ساده او پرده داره جينئ څوک څوئ له هم نه غواړي، بس د زړه پرده پکار ده، زمونږه نيت صفا دې وغيره وغيره. آيا خانداني رسم و رواج او د نفس مجبوريانې به تاسو د قبر د عذاب او د دوزخ نه بچ کړي؟ آيا د الله عَزَّوَجَلَّ په بارګاه کښې چه داسې بې کاره بهانې بيان کړئ نو د عذاب نه به پرې بچ شئ؟ او که نه، او هيڅ کله هم نه شئ بچ کيدې نو بيا خو په هر حال کښې تاسو له ضروري ده چه د بې پردګئ نه توبه اوکړئ. ياد ساتئ! په لوح محفوظ کښې کوم ځائ چه د چا جوړه ليکلې شوې وي هم هلته د هغې واده کيږي. ګني هره ورځ خو تعليم يافته او بې واده جينګئ هم د سترګى په رپ کښې د مرګ خوراک جوړيږي، بلکه ځينې وخت کښې خو داسې هم کيږي چه ناوې د خپلې

www.dawateislami.net

فرمانِ مُصطَفےٰ صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: دَچا په خوا کښې چه زما ذکر اوشو او هغه په ما درود پاک اونه وئیلو هغه په خلقو کښې ډیر کنجوس(شوم) دې. (ترغيب وترهيب)

رخصتيږئ نه مخکښې مخکښې مرګ ته اوسپارلې شي او هغه د رنړاګانو نه ځليدلې او د خوشبوګانو د وګمو نه ډکې د واده د کمرې په ځاځ د خزندؤ [يعني مارانو، لړمانو وغيره] نه ډک تنګ او توره تياره قبر ته کوزه کړې شي.

تو خوشی کے پھول لے گی کب تلک    تو یہاں زندہ رہے گی کب تلک؟

يعنې ته به تر څو په خوشحالو کښې ئې او ترڅو به ژوندئ اوسې.

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب!    صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## پنځوس، شپيته ماران

د سن 1986ء په جنګ اخبار کښې يوې غم زيلې مورخه داسې بيان ورکړې وو: زما د تپولو نه مشره لور يو څو ورځې مخکښې په حق رسيدلې وه، چه څنګه قبر اوکنستې شو نو يو دم په هغې کښې پنځوس، شپيته ماران راپيدا شو! بل قبر اوکنستې شو په هغې کښې هم هغه مارانو چچې وهلې وې او په يو بل د پاسه پراته وو. بيا هم دريم قبر تيارکړو په هغې کښې د هغه دواړو قبرونو نه زيات ماران وو. په هر يو کس يره خوره وه، ناوخته شوې هم وو، آخرمجبوراً خلقو زما خوږه لور د مارانو نه ډک قبر کښې ښخه کړه، د لرې لرې نه ئې پرې خاورې ورواچولې او ترې راروان شول. زما د مرحومې لور پلار چه د قبرستان نه کور ته راغلو نو حالت ئې ډير خراب شو. او هغه به د يرې نه ساعت په ساعت

www.dawateislami.net

فرمانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: څوك چه په ما دَجُمعې په ورځ درود شريف لولي زه به دَ قيامت په ورځ دَ هغه شفاعت كووم. (كنز العمال)

خپل څټ له څنډونه وروکول، دغه غم زيلي مور نور دا اووئيل چه زما لور هسې خو د مانځه او د روژو پابنده وه خو هغې به فيشن کولو. ما به په مينه مينه هغه پوهه کوله خو هغې به د خپل آخرت د ښيګړې په خبرو غوږ نه ګرولو بلکه په ما به غصه شوه او زه به ئې بې عزته کولم. افسوس زما په يوه خبره هم زما نادانه فيشنئ لور پوهه نه شوه.

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## خوفناکه کنده

کيدې شي چه شيطان چاته دا وسوسه وروليچه دا خو اخبارې واقعه ده څه پته ده چه دا رښتيا ده او که نه؟ فرض کړئ که دا غلطه هم وي نو غير شرعي فيشن پرستي او بې پردګي خو هم څوک نه شي ثابتولې. په حديثِ پاک کښې د ناجائِزه فيشن پرستئ عذاب ملاحظه کړئ. د سرکارِمدينه صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمانِ عبرت نشان دې. ما څه داسې خلق اوليدل چه د هغوئ څرمنې د اور په قينچو پرې کولې شوې. زما په تپوس اووئيلې شو دا هغه خلق دي چه په ناجائِزه څيزونو به ئې ځان سِنګهارولو. او ما يوه کنده هم اوليده چه دهغې نه د چغو سُورو اوازونه راتلل. زما په پوښتنه باندې اووئيلې شو، دا هغه ښځې دي چه په ناجائزه څيزونو به ئې ډېر سِنګهار کولو. (تاريخ بغداد ج1 ص415) **ياد ساتئ** د ناخن پالش (يعنی د نوکانو د پالش) پاترې په نوکانو باندې نښلی، په داسې حالت کښې نه په

www.dawateislami.net

فرمانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په كتاب كښې په ماباندې درود پاك اوليكل ترڅو پورې چه زما نوم په هغې كښې وي فرښتې به دَ هغه دپاره بخښنه غواړي۔ (طبراني)

اودس كولو اودس كيږي او نه په لامبلو غسل اوځى، چه اودس او غسل (صحيح) نه وى نومونځ هم نه كيږي.

## خبردار

هيڅ كله هم د شيطان په دې دهوكه كښې مه راځئ، ځنګه چه ځنې نادان خلق دا وائي چه دُنيا ترقي كړي ده، مَعَاذَاللّٰه پرده كول خو د زوړَورو مسلمانانونعره ده، نن صبا خو نارينه او زنانه له اوږه په اوږه كارونه كول پكار دي وغيره. يقيناً د يو مسلمان د پاره د قرآن دليل پوره دې، لِـهذا! د زړه په سترګو د قرآن دا آيت مبارک اولولئ:

وَ قَرْنَ فِيْ بُيُوْتِكُنَّ وَلَا تَبَرَّجْنَ تَبَرُّجَ الْجَاهِلِيَّةِ الْاُوْلٰى

**مفهوم ترجمه كنزالايمان: او په خپلو كورونو كښې قلارې اوسئ او بې پرده مه اوسئ لكه د تير وخت د جاهِليّت بې پردګي.** (سيپاره 22، الاحزاب: 33)

دا بره آيت بازارونو او ماركيټونو ته بې پرده تلونكو راتلونكو، د نارينؤ او د زنانؤ ګډ وډ د سيل ځائينو ته تلونكو، ده نارينؤ سره يو ځائ تعليمونه حاصلو والؤ، په سكول يا كالج كښې د نامحرم استاذانو نه سبق ويونكو اونامحرمو (هلكانو) ته سبق ښودونكو، په دفترونو، كارخانو، شفاخانو، او مختلفو اِدارو كښې د نارينؤ سره بې پرده يا په تنهائي (يعنى ځان له ځائ) كښې يا د فساد د يرې باوجود [د نارينؤ سره] يوځائ كار كونكو (زنانؤ) ته د فكر كولو دعوت وركوي.

## كه ځوئ مې لا ړو نوخه اوشو، حيا خو مې پاتې ده

حياداره ښځې كه هر څه اوشي بې پردګۍ نه كوي ښنګه چه حضرت سيدتنا اُمِّ خلّاد رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْھَا په پرده كښې په مخ نقاب اچولې د خپل شهيد ځوئ د معلومات حاصلولو د پاره په بارګاهِ سرورِ كائنات صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم كښې حاضره شوه. چا ورته اووئيل تاسو په دې حالت كښې د ځوئ د معلوماتو حاصلولو د پاره راغلې ئې چه ستاسو په مخ نقاب پروت دې، اوئې وئيل: "كه زما ځوئ لا ړو نوخۀ اوشو زما حيا خو نه ده تلې." (سننِ ابوداؤد ج 3 ص9 حديث 2488 ملخّصًا) **د الله عَزَّوَجَلَّ دِ په هغوئ رحمتونه وي او د هغوئ په خاطر دِ زمونږه بې حسابه بخښنه اوشي.**

اٰمِين بِجَاهِ النّبِیِّ الْاَمِین صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

## بې پردګي څه معمولي مصيبت نه دې

د دې حكايت نه دِ زمونږه هغه اسلامي خويندې درس حاصل كړي كومې چه د بې پردګۍ دپاره قِسم قِسم بهانې جوړوي. ځينې وائي: څه اوكړم زه خو كونډه يم، څوک وائي څه اوكړم د بچو د روټۍ [نمرۍ] د پاره د غيرو سړو سره (په بې پردګۍ سره، يا په تنهائي كښې يا د فساد د يرې باوجود) په نوكرۍ كولو مجبوره يم. حالانكه د څه نه څه ګټې دپاره څه كورَنۍ كسب هم كيدې شو، خو"مدنی سوچ"د كوم ځائ نه راوړو! آيا ټخوانئ پرده دارې ښځې به نه كونډيدلې؟ په هغوئ به څه مصيبتونه

www.dawateislami.net

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په باندې دَ جُمعې په ورځ 200 ځله درود شريف اولوستل دهغه د دوه سوو کالو ګناهونه به معاف شي. (کنزالعمال)

نه راتلل؟ آيا د کربلا په قيديانو رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْهُم باندې د غرونو په شان مصيبتونه نه وو راغلي؟ آيا **مَعَاذَ الله** عَزَّوَجَلَّ د کربلا حيادارو بيبيانو رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْهُنَّ پرده پريښودې وه؟ نه او کله هم نه نو بيا مهرباني اوکړئ او په خپله کمزورئ زړه اوسيزئ او خپل کمزورې بدن د قبر او د دوزخ د عذاب نه د بچ کولو د پاره پرده اختيار کړئ. په خدائ مې دِ قسم وي چه هغه بې پردګي معمولي مصيبت نه شي کيدې چه د هغې په وجه د الله عَزَّوَجَلَّ په عذاب کښې اونښلئ. وَالعِيَاذُ بِاللّٰهِ تَعالٰی

## د 31 مدنی ګلونو ګلدسته

(1) زمونږه خوږخوږ آقا صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به د زنانؤ لاس په لاس کښې د اغستو نه بغيرصرف ژباني بيعت اغِستلو. (ملخّص ازبهارِشريعت ج 3 ص446)

## مريده د پيرصاحِب لاس نه شی ښکلولې

(2) د زنانه د خپل پير او مرشد نه هم داسې پرده ده څنګه چه د نورو نامحرمو نه. زنانه د خپل پير لاس نه شی ښکلولې، په خپل سر دِ د هغه لاس نه راښکارې، د پير صاحب لاس ښېې دې هم نه چاپې کوي.

## زنانه او نارينه لاس نه شي مِلاوولې

(3) زنانه او نارينه د يو بل سره لاس نه شی مِلاوولې.

www.dawateislami.net

فرمانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: په ما باندې په كثرت سره درود شريف لولئ بيشكه ستاسو په ما باندې درود شريف لوستل ستاسو دګناهونو دپاره بخښنه ده. (جامع صغير)

فرمانِ مصطفٰیصَلَّی اللّٰہ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: "په تاسو كښې كه د چا په سر كښې د اوسپنې ميخ ټكوهلې شوې وي [دا ميخ ټكوهل] د دې نه غوره دي چه كه هغه د داسې زنانه سره اولګى چه هغه د ده د پاره حلاله نه وى." (معجم كبير ج 20 ص 211 حديث 486)

(4) زنانه دِ د غير سړي د بدن يو ځائ ته هم لاس نه لګوي چه كه په دواړو كښې يو هم ځوان وي، هغه ته شهوت كيدې شي، اګر كه دواړو ته د دې خبرې اطمِينان وي چه شهوت به نه كيږي.
(عالمګيرى ج 5 ص327، بهارِ شريعت ج 2 ص 443)

## دنارينؤ دلاسه بنګړى اچول

(5) د نامحرم د لاسه د زنانؤ بنګړى اچوَل ګناه ده، دواړه ګنهګار دي.

## د وړوكي ماشوم د بدن كومه حصه پټه كړي؟

(6) د ډير وړوكى ماشوم د پاره عورت (يعنى د پټولوځائ) نشته، د هغه د بدن يوځائ پټول هم فرض نه دى، بيا چه لږ غټ شى نو د هغه مخښې ته او شاته مقام پټول ضروري دي، د لسو كالو نه چه غټ شي نو بيا د هغه دپاره د بالِغ حكم دې. (ردُّالمحتار ج 9 ص 602، بهارشريعت ج 3 ص442)

## د محارِمو بدن ته د كتلو احكام

(7) نارينه د خپلومحارِمو (يعنى هغه زنانو د كومو سره چه د خپلوالي په وجه د هميشه د پاره نكاح حرامه وي مثلاً مور، خور، ترور وغيره) سر،

فرمانِ مُصطفٰےصَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: په ما باندې دَ درود شريف كثرت كوئ بيشكه دا ستاسو دَپاره پاكي ده. (ابو يعلٰی)

مخ، غوږ، اوږه، مټ، مړوند، پنډۍ او ښپو ته كتلې شي هله چه كه په دواړو كښې يو ته هم د شهوت اندېښنه [يره] نه وی.

(ملخّص از بهار شريعت ج 3 ص 444، 445)

(8) د نارينه د پاره د محارِمو خېټې، ډډی، ملا، ورون او زنګون ته كتل جائِز نه دي. (ايضًاص445) (داحكم هغه وخت دې چه كله د بدن دا اندامونه په كپړه كښې پټ نه وی، او كه دا ټول اندامونه په پيړه كپړه كښې پټ وی نو بيا كتلو كښې باک نشته).

(9) د محارِمو كومو اندامونو ته چه كتل جائِز دي هغی ته لاس لګول هم جائِز دي خو چه دواړو كښې يوه ته هم د شهوت يره نه وی.

(بهار شريعت ج 3 ص 445)

## د مور ښپې چاپې كول

(10) نارينه د خپلې مورښپی چاپې كولې شی، مګر ورون هله زور كولې شي چه په كپړه كښې پټ وي. د مور ورون ته هم بې پرده لاس نه شي لګولې. (ملخّص از بهارِشريعت ج 3 ص445)

## د مور د ښپو ښكلولو فضيلت

(11) د مور ښپې ښكلولې شي. حديثِ پاک كښې دي: "چا چه د خپلې مور ښپه ښكله كړه هغه د جنّت دورشل ښكل كړو."

(المبسوط للسّرَخسِی ج 5 ص 156)

www.dawateislami.net

## د دې خپلوانونه پرده ده

(12) د تره ځوئ، د ماماځوئ، د ترورځوئ، ښيني او اوښې، ورندار اوليور، چاچي، مامي، د ترورخاوند، په غيږ کښې اغستې پرَدې غټې کړې بچې خو چه هغه ته ئې د رضاعت[1] په ورځو کښې پئ نه وي ورکړي او اوس هغه د نارينه او زنانه په حساب کتاب باندې پوهيږي، ديني خور او ورور، ديني مور او ځوئ، دينی پلار او لور، پير او مريده غرض دا چه د چا په خپل مينځ کښې واده (نکاح) جائِز وي د هغوئ خپل مينځ کښې پرده ده. آو داسې بدرنګه بوډۍ چه هغې ته په کتلو سره د شهوت کيدو بالکل شُبه هم نه وي د هغې نه د نارينه پرده نشته. د دې نه علاوه بلې زنانه ته په کتلو کښې که د شهوت کيدو شُبه وي او که نه وي، نارينه ورته د شريعت د اِجازت نه علاوه نه شي کتلې. د چا سره چه د هميشه د پاره نکاح حرام وي د هغه نه پرده نشته. بهارِشريعت کښې دي که زنانه ته د شهوت شُبه (يعنې شک) هم وي نو غيرنارينه ته دي بالکل نه ګوري. (بهارِ شريعت ص 443)

## خواښې او سخر نه پرده

(13) د حرمتِ مصاهَرت په وجه نارينه ته د خپلې خواښې نه او زنانه ته د خپل سخر نه د پردې کولو رعايت حاصليږي. [يعني د يو بل نه ئې

[1] ياد ساتئ! ماشوم ته (د هجری سن په حساب سره) د دوو کالو د عمر پوری پئ ورکولې شي. د هغې نه پس پئ ورکول جائِز نه دي خو که د دوه نيم کاله په عمر کښې دننه دننه زنانه خپل پئ ورکړي نو حُرمتِ نکاح به ثابت شي، يعني اوس دا رضاعي ځوئ شو اوس د ده نه پرده نشته.

www.dawateislami.net

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چاچه په ما يو ځل درود شريف اولوستو الله عَزَّوَجَلَّ به په هغه لس رحمتونه نازل فرمائي. (مسلم)

پرده نه وي] خو كه په دواړو كښ يو ځوان وى نو بيا پرده كول پكار دي، هم دا مناسِب دي. [يعنې كه سخرځوان وي نو اِنګور له پكار دي چه پرده ترې كوي او كه خوابښې ځوانه وي نو د هغې او د ځوم په مينځ كښ پرده پكار ده] (دحرمتِ مصاهَرت د تفصيلي معلوماتو دپاره د بهارِشريعت د حصه7 نه "**محرمات كا بيان**" اولولئ بلكه د نكاح، طلاق، عِدَّت، د بچو د پالنې وغيره په باره كښ د معلوماتو حاصلولو د پاره ئې د واده نه مخكښ اولولئ او كه نه هم وي لوستلې نو د واده نه وروسته سهي [يعنې اوس ئې اولولئ] د بهارِشريعت حصه 7 او 8 ضرور ضرور ضرور اولولئ).

## د زنانه مخ ته كتل

(14) د زنانه مخ عورت نه دې خو د فساد پيدا كيدو د خطرې په وجه د غير محرم په مخكښ مخ ښكاره كول منع دي. هم داسې هغې ته كتل د غير محرم دپاره جائِز نه دي او لاس وغيره ورته لګول خو نور هم زيات منع دي. (دُرِّ مختار ج 2 ص 97، بهارِشريعت ج1 ص 484)

## نرئ پاجامه مه اغوندئ

(15) بعضې خلق د نرئ كپړې پاجامه [يا پرتوګ وغيره] اغوندي چه په هغې كښ د ورَنونو رنګ ځليږي، په داسې كپړو كښ مونځ نه كيږي، د شرعي مقصد نه علاوه داسې كپړې اغوستل حرام دي.

www.dawateislami.net

فرمانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: کوم کس چه په ما درود پاک لوستل هیر کړل هغه دَ جنّت لاره هیره کړه. (طبرانی)

## د بل چا ښکاره زنګونانو ته کتل ګناه ده

(16) بعضې خلق د نورو خلقو په مخکښې زنګونان بلکه ورنونه ښکاره کوي دا حرام دي. (ملخّص از بهارِ شریعت ج 1 ص 481) د دوئ ښکاره ورون یازنګون ته کتل هم جائِز نه دي. په دې وجه په نیکر [جانګي] کښې لوبې او ورزش کولو نه، او داسې کونکو ته د کتلو نه ځان ساتل ضروري دي.

## په تنهائې کښې بې ضرورته ستر ښکاره کول څنګه دي

(17) سَترِ عورت په هر حال کښې واجِب دې د څه صحیح وجې نه بغیر په تنهائې (یعنی ځان له ځائ) کښې ښکاره کول هم جائِز نه دي د خلقو په مخکښې او په مانځه کښې خو ستر بِالاِجماع فرض دي.
(دُرِّمُختار و رَدُّ المُحتار ج 2 ص93، بهارِشریعت ج 1 ص 479 ملخّصًا)

## د استِنجا دپاره ستر کله ښکاره کول پکار دي

(18) د استنجا په وخت کښې چه کله په ناسته کښې زمکې ته بالکل ورنِیزدې شئ نو دغه وخت ستر ښکاره کول پکار دي او د ضرورت نه زیاته حصه مه ښکاره کوئ (ماخوذ از بهارِ شریعت ج 1 ص409) که په پاجامه کښې زِپ (zip) (یعنی زنځیر) واچولې شي نو په وړو بؤلو کولو کښې ډیره آساني کیدې شي په دې شان به د ډیر کم ستر ښکاره کولو ضرورت پیښیږي. خو (په داسی حال کښې) په اوبو باندې استنجا کولو کښې ډیر احتیاط کول پکار دي. نرې زِپ د تړلو نه کامیاب دې.

فرمانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: دَچا په خوا کښې چه زما ذکر اوشو او هغه په ما درود پاک اونه وئيلو تحقيق هغه بدبخته شو۔ (ابن سنی)

## دنامه نه د زنګون پورې حصه

(19) نارينه د بل نارينه د نامه نه د زنګون پورې يو ځائ ته هم نه شي کتلې او زنانه هم د بَلې زنانه د نامه نه د زنګون پورې يوځائ ته هم نه شي کتلې. زنانه د زنانه نورو اندامونو ته کتلې شي خو چه د شهوت انديښنه نه وي. (بهارِ شريعت ج 3 ص 443,442)

## د پردې ويښته د نورو د نظر نه بچ ساتئ

(20) موئے زيرِناف (يعنى د نامه د لاندې ويښته) چه لرې کړې شي نو په داسې ځائ کښې غورزول صحيح نه دي چه د بل چا نظر پرې پريوځي. (بهارِشريعت ج 3 ص449)

## د زنانه د ګمنز ويښته

(21) د زنانۀ دپاره لازمه ده چه په ګمنز کولو يا په سر وينځلو کښې کوم ويښته اوځي هغه چرته پټ کړي چه په هغې د غير نارينه نظر پرې نه اوځي. (ايضًا ص449)

(22) د حيض خته [يعني کپړه] داسې ځائ کښې مه غورزوئ چه د بل چا نظر پرې پريوځي.

## د زنانه د پانزيب اواز

(23) حديث شريف کښې دي. اللّٰه عَزَّوَجَلَّ د هغه قوم دُعا نه قبلوي د چا زنانه چه پازيب اچوي. (التفسيرات الاحمديه، ص565) په حديثِ پاک کښې

www.dawateislami.net

فرمانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په ما لس ځله سحر او لس ځله ماښام درودِ پاک اولوستل دَ قيامت په ورځ به هغه ته زما شفاعت مِلاويږي۔ (مجمع الزوائد)

چه د کوم شنږيدونکي پازيب اچولو نه منع کړې شوې ده د هغې مطلب ګونګرو والا کالي دي. د دې نه مطلب اغستل پکار دي چه د کالي اواز د دُعا د نه قبليدو وجه ده نو خاص د زنانه خپل اواز (د شريعت داجازت نه علاوه غيرنارينؤ ته رسيدل) او د هغې بې پردګي به څومره د الله عَزَّوَجَلَّ د قهر سبب وي، د پردې په باره کښې بې پرواهي د تباهئ سبب ده. اعلٰحضرت رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه د شنږيدو والا کالي د استعمالولو په باره کښې فرمائي: شنږيدو والا کالي د زنانه دپاره په دې حالت کښې جائِز دي چه د نامحرمو مثلاً د ترور ځامنو، د ماما ځامنو، د تره ځامنو، د ليور او د اوښي مخښې ته نه راځي، او نه د هغه کالي شرنګ (يعنی د غږيدو اواز) نامحرمو ته اورسی. الله عَزَّوَجَلَّ فرمائي:

وَ لَا يُبْدِيْنَ زِيْنَتَهُنَّ اِلَّا لِبُعُوْلَتِهِنَّ

**مفهوم ترجمه کنز الايمان: او خپل سِنګهار دِ نه ښکاره کوي خو خپلو خاوندانو ته .... اِلخ)** (پ 18، النّور:31)

او فرمائي:

وَلَا يَضْرِبْنَ بِاَرْجُلِهِنَّ لِيُعْلَمَ مَا يُخْفِيْنَ مِنْ زِيْنَتِهِنَّ ؕ

**مفهوم ترجمه کنز الايمان: په زمکه دِ ښپه په زوره نه کيږدي، چه اوپيژندې شي دهغوئ پټ سِنګهار.** (پ 18، النّور:31)

**فائده:** دا آيتِ مبارکه څنګه چه نامحرم ته د کالي د آواز رسولو نه منع فرمائي، هم داسې چه آواز اونه رسي نو د دې اچول د زنانه د پاره جائِز

www.dawateislami.net

فرمانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللّٰہ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه په کتاب کښې په مابانديٍ درود پاك اوليکل ترڅو پورې چه زما نوم په هغې کښې وي فرښتې به دَ هغه دپاره بخښنه غواړي۔ (طبراني)

ښائي، ځکه چه په درز سره ښپه ايښودل ئې منع کړي دي، اچول ئې نه دي منع کړي. (فتاوٰی رضَوِیّه ج 22 ص128 مُلَخَّصًا) د دې نه دي هغه اسلامي خويندې د عبرت درس حاصل کړي کومې چه په سودا اغستو او په ګاونډ کښې د غيرو نارينؤ سره په ازادئ سره خبرې کوي، دوئ ته خو په کور کښې دننه هم په قلاره اواز ويستل پکار دي چه د دروازې نه باهر خلق يا ګاونډيان اواز وا نه وري. [د غُصې په وخت کښې] ماشومانو ته په زوره زوره خبرو کولو کښې هم دا احتياط کوئ.

## زنانه دِ د پوره لِستوڼي قميص اغوندي

(24) چا له د څه ورکولو دپاره دِ زنانه خپل لاس د پردې نه داسې نه او باسي چه د دې مړوند ښکاره وي. (د تلي او د څنګل د مينځ حصې ته مړوند وائي) (نن صبا عام طور هم داسې کيږي، که نارينه قصدًا اوکتل نو هغه هم ګنهګار شو. ځکه په داسې موقع مړوند په پيړه کپړه پټول ضروري دي) اسلامي خويندې دي د پوره لِستوڼي قميص اغوندي، دستانې او جُرابې دي هم استعمالوي.

## شرعي پرده کونکې ته کتل څنګه دي

(25) په بيان کړې شوې نه طريقه شرعي پرده کونکې زنانه ته که غير نارينه اوګوري نوڅه باک نشته ځکه چه دلته زنانه ته کتل شو بلکه دا هغه کپړو ته کتل شو. خو که تنګې کپړې ئې اغوستې وي

فرمانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: دَچا په خوا کښې چه زما ذکر اوشو او هغه په ما درود پاک اونه وئيلو هغه په خلقو کښې ډير کنجوس (شوم) دې. (ترغيب وترهيب)

چه د بدن نقشه پکښې معلوميږی مثلًا تنګه پاجامه [يا تنګ پرتوګ وغيره] کښې د پنډئ او د ورون نقشه معلوميږي نو په داسې حالت کښې ورته کتل جائِز نه دي. (مُلخَّص از بهارِ شريعت ج 3 ص 448)

## د زنانه ويښتو ته کتل حرام دي

(26) که زنانه د نرئ کپړې لوپټه په سر کړې وې چه په هغې کښې ويښته يا د ويښتو توروالې، غوړ يا څټ ښکاري نو د هغې طرف ته کتل حرام دي. (ايضًا) په داسې نرئ لوپټه کښې د زنانه مونځ هم نه کيږي.

(27) نن صبا **معاذالله** عَزَّوَجَلَّ [يعنې د الله پناه] زنانه سرتور سر باهر ته اوځي، ښکاره مړوندونه او ښکاره ويښته ګاډې چلوي، او په سکوټر شاته ناسته خپله چونټه [ښکاره] خوزوي. د دوئ ويښتو يا مړوندونو ته ناڅاپه رومبې نظرمعاف دې، خو چه سمدست ترې نظر واړوي، او قصداً [يعنې په اِراده سره] د هغې طرف ته کتل يا نظر ترې نه اړول حرام دي.

## حکايت

**مفتيِ** دعوتِ اسلامی حضرت علامه مفتي محمد فاروق عطّاري عَلَيهِ رَحمَةُ اللهِ البَارِی د دې يرې نه خپل سکوټر خرڅ کړو چه په لاره کښې بې پرده ښځې ډيرې زياتې وې، د ګاډې چلولو په وخت کښې د سترګو حفاظت نه شي کيدې ځکه چه د نه کتلو په صورت کښې د ګاډې د جنګيدو خطره وې او کتل خو ورته پکار نه دي. **د الله** عَزَّوَجَلَّ **دِ په هغوئ رحمتونه وي او د هغوئ په برکت سره دِ زمونږه بې حسابه بخښنه وي.**

فرمانِ مُصطَفٰےصَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: څوك چه په ما دَجُمعې په ورځ درود شریف لولي زه به دَ قیامت په ورځ دَ هغه شفاعت کووم. (کنز العمال)

(28) **نارینه** د پردۍ زنانه یو اندام ته هم د اجازتِ شرعي نه بغیر نه شي کتلې.

## زنانه د نارینه نه کله علاج کولې شي

(29) که چرې ښځه ډاکټره پیدا نه شي نو دَ مجبورۍ په حالت کښې ښځه نارینه ډاکټر ته د ضرورت مطابق د وجود بیماره حصه ښودلې شي او اوس ډاکټر د ضرورت مطابق هغې ته لاس لګولې شي. [یعنې چیك کولې ئې شي] د ضرورت نه د زیات وجود ښکاره کولو بالکل اجازت نشته.

## د پردۍ زنانه سره یواځې کیدل

(30) د پردي سړي او پردۍ زنانه [په یو مکان، یوه کوټه کښې] یواځې کیدل حرام دي. که داسې بدرنګه بوډۍ وي چه د شهوت قابله نه وي نو هغې ته کتل او هغې سره یواځې کیدل جائز دي.

## امرد [ښکلي هلك] سره یواځې کیدل

(31) سړي لره ښکلي هلك ته د شهوت په نظر کتل حرام دي. که شهوت راځي نو د هغه سره په یو مکان کښې یواځې کیدل ناجائز دي. د ښکلولو یا غاړه ورکولو خواهش پیدا کیدل د شهوت نښه ده.[1]

---

[1] (حاشیه: د نورو معلوماتو دپاره د مکتبة المدینه چاپ شوي رساله ''**قوم لوط کی تباه کاریاں**'' (45 صفحات) اولولئ.)

www.dawateislami.net

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: کوم کس چه په ما درود پاک لوستل هیر کړل هغه دَ جنّت لاره هیره کړه. (طبرانی)

**خبردار: مالي، مزدور،چوکیدار، ډرائیور،** او د کور د **نوکر** نه هم پرده نه کول حرام دي. (د پردې د تفصیلي معلوماتو حاصلولو دپاره د مکتبة المدینه چاپ شوې کتاب "**پردے کے بارے میں سوال و جواب**" اولولئ)



غوښتونکي د غمِ مدینه و بقیع و بخښنه و بې حِساب جنّتُ الفِردوس کښې د آقا د ګاونډ

۱ جمادی الاول ۱۴۳۶ھ

20-2-2015

**دا رساله اولولئ او بل ته ئې ورکړئ**

په غم ښادئ، اجتماعاتو، عُرسونو او د میلاد په جلوسونو وغیره کښې د مکتبةُ المدینه نه شائع شوې رسالې او د مدني ګلونو پرچې تقسیم کړئ او ثواب اوګټئ، خپلو ګاکونو ته په تحفه کښې ورکولو د پاره په خپلو دوکانونو کښې هم د رسالو ایښودلو عادت جوړ کړئ، د اخبار خرخونکو یا د ماشومانو په ذریعه په خپل چم ګاونډ کښې کور په کور وقفه په وقفه کله یوه کله بله د سنّتو نه ډکې رسالې رسَولو په ذریعه د نیکئ دعوت عام کړئ او ډیر ثوابونه اوګټئ

## د شِکوه تعریف

د مصیبت په وخت کښې ګیلې قِصې اوبې صبري کولو ته شِکوه وائي.

(حدِیقه ندِیه شرح طریقهٔ محمّدیه ج 2، ص 98)

## مآخذومراجع

| مطبوعه | کتاب | مطبوعه | کتاب |
| --- | --- | --- | --- |
| دارالمعرفه بیروت | الزواجر عن اقتراف الکبائر | مکتبة المدینه باب المدینه کراچی | قرانِ مجید |
| دارالکتب العلمیه بیروت | المبسوط | پشاور | تفسیرات احمدیه |
| دارالمعرفة بیروت | ردالمختار | دار ابن جزم بیروت | مسلم |
| دارالفکر بیروت | عالمگیری | داراحیاء التراث العربی بیروت | ابوداوٗد |
| رضافاونڈیشن مرکزالاولیاءلاهور | فتاوٰی رضویه | دارالفکر بیروت | ترمذی |
| مکتبة المدینه باب المدینه کراچی | بهارِ شریعت | داراحیاء التراث العربی بیروت | معجم کبیر |
| ضیاءالقرآن پبلی کیشنز مرکزالاولیاءلاهور | مراٰة المناجیح | دارالکتب العلمیه بیروت | الفردوس بماثور الخطاب |
| ❀❀❀ | ❀❀❀ | دارالکتب العلمیه بیروت | تاریخ بغداد |

www.dawateislami.net

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: دَچا په خوا کښې چه زما ذکر اوشو او هغه په ما درود پاک اونه وئیلو تحقیق هغه بدبخته شو۔ (ابن سنی)

# فهرست


| | | | |
|---|---|---|---|
| دَ دُرُود شریف فضیلت | 1 | د دې خپلوانونه پرده ده | 13 |
| زنانه چه خوشبو اولګوی نو باهر دِ ... | 2 | خوابنې او سخر نه پرده | 13 |
| د بې پردګئ سخته سزا | 3 | د زنانه مخ ته کتل | 14 |
| خوفناک ځناوران | 3 | نرئ پاجامه مه اغوندئ | 14 |
| کمزورې بهانې | 5 | د بل چا ښکاره زنګونانو ته کتل ګناه ده | 15 |
| پنځوس، شپیته ماران | 6 | په تنهائې کښې بې ضرورته ستر ... | 15 |
| خوفناکه کنده | 7 | د استِنجا دپاره ستر کله ښکاره کول.. | 15 |
| خبردار | 8 | دنامه نه د زنګون پورې حصه... | 16 |
| که ځوئ مې لاړو نوڅه اوشو،حیا .. | 9 | د پردې وینښته د نورو د نظر... | 16 |
| بې پردګي څه معمولي مصیبت نه دې | 9 | د زنانه د ګمنز وینښته | 16 |
| د 31 مدنی ګلونو ګلدسته | 10 | د زنانه د پانزیب اواز | 16 |
| مریده د پیرصاحِب لاس نه شی ... | 10 | زنانه دِ د پوره لِستونړې قمیص ... | 18 |
| زنانه او نارینه لاس نه شي مِلاوولې | 10 | شرعي پرده کونکې ته کتل څنګه .. | 18 |
| دنارینؤ دلاسه بنګړی اچول | 11 | د زنانه وینښتو ته کتل حرام دي | 19 |
| د وړوکي ماشوم د بدن کومه حصه .. | 11 | حکایت | 19 |
| د محارِمو بدن ته د کتلو احکام | 11 | زنانه د نارینه نه کله علاج کولې شي | 20 |
| د مور ښپې چاپي کول | 12 | د پردئ زنانه سره یواځې کیدل | 20 |
| د مور د ښپو ښکولو فضیلت | 12 | امرد [ښکلي هلك] سره یواځې کیدل | 20 |


www.dawateislami.net